مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۱ / ۲۳

# د فخر افغان پاچا خان له خاطرو څخه:

په «۱۹۲۶م کال کې بیت المقدس ته ورغلم هلته به مې چې هره آباده ځمکه لیده نو خاوند به یې یهودی وو او چې شاړې ځمکې به مې لیدې خاوند به یې عرب وو. د یهودانو په سیمو کې خوړنځایونه پاک او یوازې به ماښام په کې کسان لیدل کېدل، ځکه د ورځې به ټول یهودان په کار بوخت ول. خو دعربانو په سیمو کې به رسټورانتونه تمامه ورځ ډک ول، خلک به په کې ناست ول، چلمونه به یې څکول او یو ډول لوبه به یې کوله. یوه ورځ مې له یوه عرب سره خبرې کولې او د شاړو ځمکو خبره مې ورياده کړه چې د یهودانو سیمې آبادې او ستاسو بیا شاړې پرتې دي. هغه وویل موږ دا شاړې ځمکې په یهودانو خرڅوو چې آبادې یې کړي، هسې هم دا وروستۍ پېړۍ ده او مهدی ع را روان دی او دا ټول به بېرته زموږ شي!»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ